دَ عظمتِ قرآن او دَ دستاربندي نظمونه

# دستاربندی

## نظمونه

ليکوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف بنوری ٹاؤن کراچی

ناشر

**اسلامی ادبی ټولنه**

مردان خیبرپختونخوا

# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# وصلّی اللّٰه علی النّبیّ الامّیّ

## دستاری بندی ............. نظم

زمونږ نن په مدرسه کښې یوځل بیا دستاربندی ده
خوشحالی ده خوشحالی ده ، هرطرف ته خوشحالی ده

دوی دی کړی محنتونه
دوی یاد کړی سبقونه
قیمتی کړل دوی وختونه
دوی یاد کړی آیاتونه

ډیر محنت سره دا کیږی ، دَ قاری صیب ښهٔ خواری ده
خوشحالی ده خوشحالی ده ، هرطرف ته خوشحالی ده

ښکلی ښکلی ماشومان
ډیر شول دلته حافظان
قرآن نُور دَ مسلمان
قرآن زړهٔ له اطمینان

دا دَ زړونو زندګی ده ، زندګی دا حقیقی ده
خوشحالی ده خوشحالی ده ، هرطرف ته خوشحالی ده

دَ مور پلار په دُعاګانو

په دُعا دَ مشرانو

په دُعا دَ صالحانو

کاميابي ده مؤمنانو!

دَ ګلونه باغيچه ده ، هر طرف ته خوشبوئي ده

خوشحالی ده خوشحالی ده ، هرطرف ته خوشحالی ده

دَ حافظ مقام اُوچت دے

ورسره عظيم دولت دے

بنۂ عظيم دَ ربَ نعمت دے

دا تمام پوره صفت دے

ناسته دوی سره احمده! له فائدي کله خالی ده

خوشحالی ده خوشحالی ده ، هرطرف ته خوشحالی ده


## ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن يونيورستي روډ خوره بانډه مردان

# دستاربندی..............نظم

ښوره لاړو کوڅو کښې هرطرف ته خوشبوئی ده
زمونږ په مدرسه کښې يو ځل بيا دستاربندی ده
ختمونه دَ قراّن دلته کښې کړی ماشومانو
ختمونو دَ قراّن دلته کښې شوی مؤمنانو!
هوا راښوره شوې يو ځل بيا دَ پسرلی ده
زمونږ په مدرسه کښې يو ځل بيا دستاربندی ده
سحر نه ترماښامه به وئيلو دوی قراّن
دا کار دَ کتې دلته کښې پکار دے په جهان
قراّن لوستلو سره په عمل ئې کاميابی ده
زمونږ په مدرسه کښې يو ځل بيا دستاربندی ده
مورپلار د دغې ټولو ماشومانو دی خوشحاله
هرڅوك مبارکې لره ورځی ورته نن خواله
په هريو حرف باندې راته معلومه ده نيکی ده
زمونږ په مدرسه کښې يو ځل بيا دستاربندی ده
احمده! ښه عمل دَ کاميابی په هر قدم دے
خوشحاله ورسره په هر طرف بنی اّدم دے
شعرونه تا ليکلی ورله دا مبارکی ده
زمونږ په مدرسه کښې يو ځل بيا دستاربندی ده

# دستاربندي .............. نظم

نن بيا دستاربندي ده زمونږ په محله کښې
ختمونه دَ قرآن دی زمونږه مدرسه کښې
تړلې به دستار شی دوی ته په دې چينه کښې
ختمونه دَ قرآن دی زمونږه مدرسه کښې
په نور دی منوره تمام دا حافظان
سينه کښې چې دَ چا دے محفوظ ښکلې قرآن
سکون دے اطمينان دے قرآن سره سينه کښې
ختمونه دَ قرآن دی زمونږ په مدرسه کښې
دَ قدر خلق دا دی د دوی قدر پکار دے
اعلا دی تول اعلا دی دَ دوی قدر پکار دے
شاهان دَ زمانې دی دا تول په هرحصه کښې
ختمونه دَ قرآن دی زمونږ په مدرسه کښې
قرآن وئيلې دوی دے کتاب دَ ربّ اکبر
قرآن وئيلې دوی دے تمام دَ ربّ اکبر
حسين ښکلې ماحول دے د دين دې باغيچه کښې

ختمونه دَ قرآن دی زمونږه مدرسه کښې
ستا خوښ احمده! ټول دی هر خوا دوی په جهان
سينه کښې چې دَ چا دے محفوظ ښکلې قرآن
سکون دے اطمينان دے ددين په تذکره کښې
ختمونه دَ قرآن دی زمونږ په مدرسه کښې

ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني
نائب صدر آل پرائمری ټيچرز ايسوسی ايشن تحصيل مردان
ساکن يونيورستی روډ خوره بانډه مردان

# چې ختم دَ قرآن وی ...... نظم

چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه راوليږی
هريو محل مکان ورسره ښکلې خائسته کيږی
ماحول ورسره ښکلې دَ دُنيا دَ لر او بر شی
ماحول ورسره ښکلې نورانی شی معطّر شی
زمونږ نه به زمونږه ربّ په دې ډير خوشحاليږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه راوليږی
اجرونه به په دې باندې محشر کښې وی ډير ډير
چې چا تلاوت کړې په دې در کښې وی ډير ډير
ختمونه دَ قرآن چې وی ماحول پوره بدليږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه راوليږی
په دې باندې رضا دَ ربّ منان ده مسلمانه
په دې باندې ښُکلا دَ هر انسان ده مسلمانه
نادان په دې خبره باندې وُلے نۀ پوهيږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه راوليږی
احمده! خوشحالی ده ښۀ تمامه په جهان
په دې کښې کاميابی ده ښۀ تمامه په جهان

په دې سره جنت ، هريو نعمت به ملاويږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه راوليږی

.....................................


# ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

نائب صدر آل پرائمری ټيچرز ايسوسی ايشن تحصيل مردان

ساکن يونيورسټی روډ خوره بانډه مردان

# ختم القرآن او دَ نزول دَ رحمتونو (نظم)

چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
حسین هر یو مکان وی رحمتونه نازلیږی
ختمونه دَقرآن چې وی ماحول ښکلې خائسته وی
ختمونه دَقرآن چې وی حُسن په هر حصه وی
رښا په هر مکان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
ختمونه دَ قرآن چې وی ماحول وی منوّره
ختمونه دَ قرآن چې وی ماحول وی معطره
خوشبو خوشبو جهان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
ختمونه دَ قرآن چې وی هرخوا ته وی راحت
ختمونه دَ قرآن چې وی، کیږی چې تلاوت
سکون وی اطمینان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
ختمونه دَقرآن چې وی هرخوا ته خوشحالي وی
اعلا حسینه ښکلې به نقشه دَ زندګې وی
اختر په هر انسان وی رحمتونه نازلیږی

چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
دا وخت دَ قبلیدو دَ دعاګانو دے احمده!
دا وخت دَ یادیدو دَ مشرانو دے احمده!
په تیخته هر شیطان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی

....................................


ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورستي روډ خوره بانډه مردان

# ختم القرآن اودَ نزول دَ رحمتونو (نظم)

چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
حسین هر یو مکان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی نو ماحول ښکلي خائسته وی
چې ختم دَ قرآن وی بیا حُسن په هر حصه وی
رنګا په هر مکان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی ټول ماحول وی منوّره
چې ختم دَ قرآن وی ټول ماحول وی معطره
خوشبو خوشبو جهان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی هرخوا ته وی راحت
چې ختم دَ قرآن وی ،او چې کیږی تلاوت
سکون وی اطمینان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی بیا هرخوا ته خوشحالي وی
اعلا حسینه ښکلي به نقشه دَ زندګي وی
اخترپه هر انسان وی رحمتونه نازلیږی

چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی
دا وخت دَ قبلیدو دَ دعاګانو دے احمده!
دا وخت دَ یادیدو دَ مشرانو دے احمده!
په تیخته هر شیطان وی رحمتونه نازلیږی
چې ختم دَ قرآن وی رحمتونه نازلیږی

..................................


ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

# عظمت دَ قراٰن کريم ....... نظم

په کلامونو کښې اوچت ربّ کلام دے
نزدې شه ورته ...پکار کۀ ستا په ژوند آرام دے

قراٰن کتاب دَ پاك اللّٰه دے
نازل زمونږه ﷺ په آقا ﷺ دے
عظيم کتاب دے رهنما دے
تل بيمارانو له شفا دے

ادب لازم د دې کتاب په هر مقام دے
نزدې شه ورته ...پکار کۀ ستا په ژوند آرام دے

دَ زړونو زنګ په دې لرې کيږي
ژوند کښې سکون راپيداکيږي
غم له ژوندون نه لرې کيږي
په دې غمژن زړۀ قلاريږي

په انعامونو کښې عظيم دَ ربّ انعام دے
نزدې شه ورته ...پکار کۀ ستا په ژوند آرام دے

اول دليل دَ شريعت دے

بيا دَ نبیﷺ تمام سيرت دے

اجماع دليل دريم دَ امت دے

بُنياد قياس لره حجت دے

اهم دليل دَ شريعت دَ دين اسلام دے

نزدي شه ورته ...پکار کۀ ستا په ژوند آرام دے

په کښې احکام دَ حج روژي دی

هم دَ مونځونو دَ صدقي دی

نوري خبرې هم په کښي دی

خبرې دَ مولا خوږي دی

ښکاره واضحه دَ مولا اعلا پيغام دے

نزدي شه ورته ...پکار کۀ ستا په ژوند آرام دے

سحر ماښام ئې تلاوت کړه

ورسره مينه محبت کړه

وسيله جوړه دَ جنت کړه

ځان په سکون کړه په راحت کړه

نورانی نور احمده! تل کامل امام دے

نزدې شه ورته ...پکار کۀ ستا په ژوند آرام دے

...................................

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

نائب صدر آل پرائمری ٹیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورسٹی روډ خوره بانډه مردان

# ختمُ القرآن ........... نظم

تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك
پټکي په سرډير قدردان مبارك
معاذ خوشحاله دَ رُخسار سره دے
نن دَ ختمونو په دستار سره دے
تولو ته فضل دَ رحمٰن مبارك
تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك
تاج په سريږی به مورپلار ته دَ دوی
دا خبر دلته کښي پوره ښۀ قوی
په محشر دوی ته دا لوئي شان مبارك
تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك
سليمان وروروروسره ډير خوشحاله
فياض اللّٰه ورله ور غلي خوا له
دَ تولو شه دَ ربَ احسان مبارك
تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك

خوشحاله دوی سره وسیم اللّٰه دے
خوشحاله دوی سره هریو ماما دے
په جمع دوی ته حق بیان مبارك
ټولو ته شه ختمُ القران مبارك
عمر رحیم باندې اختر راغلے
زیرې په دوی اعلا بهتر راغلے
دوست هر بشر ته عالیشان مبارك
ټولو ته شه ختمُ القران مبارك
دَ زړهٔ قرار عمر رحمان موندلے
دَ زړهٔ قرار ابراهیم خان موندلے
ورته دې وی دا ښهٔ دوران مبارك
ټولو ته شه ختمُ القران مبارك
مرحوم عبدالجبار دَ پاره صدقه
دَ هریو رشته دار دَ پاره صدقه
ډیر ډیر دې شی دَ خاندان مبارك
ټولو ته شه ختمُ القران مبارك

نیشته څه حد دَ خوشحالي دَ مورئي
رحمت وريږي هرساعت په کور ئي
ورته ډالي دَ اطمينان مبارك
تولو ته شه ختمُ القراٰن مبارك
رَنه خوشحاله کړے موريلار ورسره
احمد تمام کړلو ګفتار ورسره
ورته دي ستا وی دا بيان مبارك
تولو ته شه ختمُ القراٰن مبارك

......................

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

# ختمُ القرآن .......... نظم

تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك
پټکي په سرډير قدردان مبارك
هريو حسين ښکلي دستار په سر کړو
پټکي اعلا ئي خوشبودار په سر کړو
تولو ته فضل دَ رحمٰن مبارك
تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك
لکه دَتاج په شان پټکي د دوی دے
دَ چا دَ نمسی دَ چا ماشوم دا ځوي دے
تولو ته دا ښکلي دوران مبارك
تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك
تاج په سريږي به مور پلار ته دَ دوی
دا خبر دلته کښي پوره ښهٔ قوی
په محشر دوی ته دا لوئي شان مبارك
تولو ته شه ختمُ القرآن مبارك

ورسره ډيره دَ دوی مُور خوشحاله
دَ هريو پلار دَ هريوورور خوشحاله
دَتولو شه دَ خاندان مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك

خوشحالی هم تول خاندان دَ پاره
خوشحالی دا دَ هر انسان دَ پاره
په جمع دوی ته حق بيان مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك

سَم دَ اختر په شان ده دا خوشحالی
په هريو درباندي اعلا خوشحالی
خوشبو هريو ته دَ جهان مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك

ښکلي محفل دے عالمان راغلی
اعلا محفل دے صالحان راغلی
هر چا ته نن دَ نُور باران مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك

سَم په هر چا په ژوند اختر راغلے
سَم په هر چا دَ ژوند سحر راغلے
دوست هر بشر ته عاليشان مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك
دَ زړۀ قرار په حقيقت دَ تولو
دا هدايت دے سعادت دَ تولو
دوی ته دې وی تل اطمينان مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك
دَ هر حافظ دَ هر مرحوم دَ پاره
تو به محشر له اعلا تياره
دليل احمده! دا ا برهان مبارك
تولو ته شه ختمُ القران مبارك

ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني
نائب صدر آل پرائمری ټيچرز ايسوسی ايشن تحصيل مردان
ساکن يونيورسټي روډ خوره بانډه مردان

# دستاربندی ............ نظم

اے خوږو درنو ملګرو ! شکر اُوباسے باربار
چې په سر کړلو نن تاسو ډیر قدر دا دستار
دا دستار ډیر دَ عزت دے
چې په سر وی چاته دلته
نورانی دے دا سنت دے
چې په سر وی چاته دلته
دا عزت په هرقدم دے چې په سر وی په هر دار
اے خوږو درنو ملګرو ! شکر اُوباسے بار بار
نتیجه دَ محنتونو
دا ده نن ظاهره شوے
نتیجه دَ سبقونو
دا ده نن ظاهره شوے
د دې ورځ په دُنیا کښې مونږ کوُلو انتظار
اے خوږو درنو ملګرو ! شکر اُوباسے باربار

قدرمندو ، عزتمندو

ستاسو دلته خوشحاله دا

قدرمندو ، عزتمندو

ستاسو دلته کامیابی دا

بل ته ښۀ لاره ښودنه ، شو مقصد دَ ژوندون کار

اے خوږو درنو ملګرو ! شکر اُوباسے بار بار

محراب ستاسو انتظار کړی

دَ ښارونو هم دَ کلو

دَ پردو جوړ رهنما شے

خیرخواه جوړ شے هم دَ خپلو

بوټي جوړ شے احمد وائی په دُنیا کښې میوه دار

اے خوږو درنو ملګرو ! شکر اُوباسے بار بار

..................................

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

# ختم القرآن دستاربندی ........ نظم

ختم دَ قرآن سره دستار خوند کوی
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوی
غاړه کښي ورسره دَ ماشوم هار خوند کوی
دولت دغه عزت مدام په جار خوند کوی
طلب لرلو دوی ځکه نن دوی اُوکړل ختمونه
وریږی له آسمانه په دوی پت ،پټ رحمتونه
عمل ډیر زیات دَ قدر په دي دار خوند کوی
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوی
عزت ، دغه رُتبه دي ربّه ! هرچا ته نصیب شی
نعمت دغه رُتبه دي ربّه! هم ما ته نصیب شی
عمل دا په دُنیا دَ هر هوښیار خوند کوی
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوی
خوشحاله ئې مور پلار دی ورسره ټول خاندان
پوره شولو د دوی دَ مور او پلار دلته ارمان
محفل دَ مدرسي ډك له انوار خوند کوی

پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوي
دُنيا کښې کاميابي ده ، کاميابي اعلا اعلا
دُنيا کښې خوشحالي ده، خوشحالي اعلا اعلا
بيان داسې محفل کښې هر ګفتار خوند کوي
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوي
دَ ډيرو ثوابونو ذريعه دا په جهان
په کور دَ رحمتونو وسيله دا په جهان
قرآن سره مينه پټه په جار خوند کوي
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوي
کوشش بنه دَ محنت دا نتيجه ده دَ قاري صيب
کوشش دَ تربيت دا نتيجه ده دَ قاري صيب
د داسې خلقو ذکر بار بار خوند کوي
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوي
راغلي دي محفل ته ښکلي ښکلي عالمان
راغلي دي محفل ته، کشران هم مشران
په دوی سره محفل، کلي هر ښار خوند کوي

پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوی
احمده! دُعاګاني په کښي اُوکړه ځان دَ پاره
دَ مورپلار سره دَ خاندان ، جهان دَ پاره
په شوق هريو دُعا دَ طلبګار خوند کوی
پټکي په سرماشوم ته حُسندار خوند کوی

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

# ختم القرآن او دستار بندی

.................نظم.................

دستار دَ حافظانو تل په سر مزه کوی
مابنام وی هر لمحه دا هرسحر مزه کوی
ختمونو سره دا عزت انسان ته ملاویږی
دَ مورپلار سره تبول خاندان ته ملاویږی
دولت دا قیمتی په لر او بر مزه کوی
دستار دَ حافظانو تل په سر مزه کوی
عالم راځی ، مفتی راځی محفل ته دَ قرآن
په سر هریو حافظ ته کړی دستاربنۀ عالیشان
محفل د داسې خلقو برابر مزه کوی
دستار دَ حافظانو تل په سر مزه کوی
سم تاج دے دَ عزت لکه دُنیا کښې دَ شاهانو
په سر چې وی پټکې کله دلته دَ حافظانو
هر خواته خوشحالی وی دا اخترمزه کوی
دستار دَ حافظانو تل په سر مزه کوی

موړپلار له خوشحالۍ ورکوی دلته په جهان
احمده! ورسره خوشحاله وی تول خاندان
دَ نور نه ډك دا سپين او تور څادر مزه کوی
دستار دَ حافظانو تل په سر مزه کوی

..............................................

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

# ختم القرآن او دستار بندی

نظم

دا دستار په سر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
خوشحالی، اختر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
ډیره زیاته خوشحالی ده ، قرآن دلته یادوُل
بندګی ده زندګی ده ، قرآن دلته یادوُل
نُور رڼا سحر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
دا دستار په سر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
مور پلار لره عزت دا د دُنیا په هر مقام
خوشحالی هریوساعت دا، په دُنیا دلته مدام
خوشبو دَ هردر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
دا دستار په سر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
پاك كلام پاكي سینه كښي همیشه دلته مدام وی
هریشر ورسره دلته په سكون وی په آرام وی
حق محبوب خبر دَ تولو مبارك شه مبارك شه
دا دستار په سر دَ تولو مبارك شه مبارك شه

دَ اُستاذ محنت ښکاره شو ، دَ مورپلار وے دُعاګانې
دا نصيب شوې چې احمده ! د چا دلته رنړاګانې
لاثاني ګوهر دَ ټولو مبارك شه مبارك شه
دا دستار په سر دَ ټولو مبارك شه مبارك شه
رنړا دَ نظر دَ ټولو مبارك شه مبارك شه
دا دستار په سر دَ ټولو مبارك شه مبارك شه

..................................................

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

# ختم القرآن ....... نظم

ربَ اُوکړهٔ په تاعظيم احسان
تا چې کړلو ختم دا قرآن
ښه دَ سعادت خبره دا
ډيره دَ عزت خبره دا
سکون تاحاصل کړو اطمينان
تا چې کړلو ختم دا قرآن
دا ده خوشحالي ډيره اعلا
دَ ژوند خوشبوئي ډيره اعلا
دي سره هرڅوك وي قدردان
تا چې کړلو ختم دا قرآن
ستادَ مور او پلار دَ پاره خير
دي کښې هريو دار دَ پاره خير
ډير عظيم دولت دَ پاك سبحان
تا چې کړلو ختم دا قرآن

دا دَ هر يو كلی خوشحالی
هواګانې دی دَ پسرلی
ورسره حسين شو هر مكان
تا چې كړلو ختم دا قرآن
تاته دې بار بار وی مبارك
احمده ! په جار وی مبارك
ګټه په كښې ده دَ مسلمان
تا چې كړلو ختم دا قرآن

.............................................

ليكوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

# دستاربندی ختمِ بخاری ......نظم

دا چې نن په سر لری پټکی
د دوی دے نن ختمِ بخاری
ډیر دَ کوششونو نتیجه
ډیر دَ محنتونو نتیجه
نن ئې نصیب شوې کامیابی
دا چې نن په سر لری پټکی
نور رښا دَ دوی شوه په نصیب
پاتې نه شو یو بشر غریب
تول دی وارثان دَ مدنی ﷺ
دا چې نن په سر لری پټکی
دا مُبلغین دَ زمانې
خلق بهترین دَ زمانې
ښه خبره دا واوره قوی
دا چې نن په سر لری پټکی

دا دي وارثان دَ شريعت
دوي سره لازم دے محبت
مينه مجازي نه ، حقيقي
دا چې نن په سر لري پټکی
دوي مونډلې نن دَ ژوند مُراد
ستنې دَ اسلام دي دَ فولاد
لاره ښه ښودل غتېه نيکی
دا چې نن په سر لري پټکی
رنګ دے هر بشر نن په دُعا
نن مونډلې دوي رُتبه اعلا
غتېه دَ ژوندون دا خوشحالي
دا چې نن په سر لري پټکی
دا دَ خاندان تمام عزت
دا دَ مسلمان تمام عزت
ډير عظيم اُوچت مقام لري
دا چې نن په سر لري پټکی

پوره سلسله شوه دَ علوم

ورته شه ډالی نظم منظوم

ښکلي دَ احمد دا شاعري

دا چې نن په سر لری پټکی

................................

ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

# ..........الوداعی نظم ......

# جامعه بنوری ټاؤن ۲۰۰۱ء

راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی
نعرې دَ الوداع دی نظارې دَ الوداع دی
فکر کوُنکی ټول په دې جهان کښې دَ عقبیٰ دی
نعرې دَ الوداع دی نظارې دَ الوداع دی
يو خواته دَ فرق غم دے دَ يو بل نن په سر
بل خوا ته خوشحالې دی دَ دستار په لر اوبر
ژوندون کښې تبديلې دی رنګانې دَ سحر
اثار دَ کاميابی دی خوشبوئی ده په هر در
دا نن چې طالبان دی مستقبل کښې علماء دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی
حسين بنوری ټاؤن ورسره دا تمام ګلشن
آباد په دوی سره حسين دغه تمام چمن
دَ زړه کړې دا حسين مقام اعلا بنګلې مسکن
داعی دَ انقلاب دے هر طرف ته دَ امن

مضبوط ئې بُنیادونه سَم فولاد له ابتدا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې یو ځل بیا دی
مفتی ولی حسنؒ اول مفتی دَ مدرسې وو
دفاع کوُونکې هر ساعت د خپلې جامعې وو
اعلا ښهٔ محافظ د دغې در اعلا چینې وو
یو ګل ددې چمن ښکلې حسینې باغیچې وو
هم داسې خلق دلته نه وتلې په هر خوا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې یو ځل بیا دی
بیا ذکر دَ مصباح اللّٰه شاه صیب کړم ډیر په ادب
عظیم په هر صفت سره عظیم په ټول نسب
خوښ دلته دَ عجم دَ خلقو خوښ هم دَ عرب
عظیم لوئې مدرس دَ بنوریؒ وو دَ مکتب
یادونه ئې موجود په مدرسه کښې ښهٔ صفا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې یو ځل بیا دی
بیا ذکر وریسې دَ احمد الرحمٰن دَ شیخؒ
پکار دی اوریدل مونږله هریو بیان دَ شیخؒ
ثانی علم کښې نه وینم زهٔ په جهان دَ شیخؒ

قائل دَ خوشبوئی تمام دی طالبان دَ شيخ

دَ هريو صفت ښۀ پوره لائق تول په ريښتيا دی

راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی

هير نۀ دے رانه شيخ ادريسؒ دَ وخت عظيم اُستاد

دَ علم په رڼا به دوی ختمولو هر فساد

يوسف لُدهيانویؒ بل مخالف تل دَ الحاد

ډيرزيات لری دُنيا کښې روحانی اعلا اولاد

زمونږ دَ ټولو دوی په جمع دلته کښې خيرخوا دی

راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی

دَ فضل محمد اُستاد په ډيرو دے احسان

عظيم لوئې مدرس وو دَ خپل وخت عظيم انسان

درسونه د عبدالرشيد علامه دَ جهان

لعلونه دَ خپل وخت وو سَم په شان دَ بدخشان

خير خوا دَ جهان دلته کښې هم دا خلق پيدا دی

راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی

راضی شے لويه خدايه له حبيب اللّٰه مختارؒ نه

ډير فيض دې حاصل کړے طالبانو ئې ګفتار نه

مفتي عبدالسميع شهيد دَ علم عَلَمدار نه
دښمن به تختيدلو هميشه د دوی دَلار نه
اعلا دَ دين وے ستنې حقيقت کښې ښۀ بالا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی
هير نۀ دے محمد بنوریؒ مونږ نه درونډ انسان
دَ علم په چينه کښې لری ژوند ښه قدردان
ورسره محفلونو کښې مدام وو صالحان
ورسره محفلونو کښې مدام وو عالمان
دَ شرف او دَ فضيلت خبرې دا دَ هر دانا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی
مفتي ولي درويشؒ دَ زمانې عظيم شاعر
فتویٰ او په تحقيق کښې وو ډير زيات پوره ماهر
باطن ئې نوراني وو ، نوراني ئې وو ظاهر
دَ حق بيان دَ پاره هر ميدان کښې وو حاضر
اثار ئې دَ علومو شاګردانو سره دا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی
زما دلته کښې ډير زيات دی دَ قدر اُستاذان

يٰسين صيب رزين شاه صيب راته هريو ښۀ ډير ګران
اُستاذ محب الله صيب زما ځان دے اطمينان
اُستاذ سعيد الله صيب بل اُستاذ عطاء الرحمٰن
قاري نسيم الدين ، عبدالحميد په ژوند بالا دي
راجمع طالبان بنوري ټاؤن کښې يو ځل بيا دي
ذکر دَ مولانا امدادالله صيب کړم په جار
يادومه مولانا عطاء الرحمٰنؒ دَ کلي ښار
په دوی دې رحمتونه وی دَ ربّ پروردیګار
ټوله کښې دی شامل دَ صالحانو دَ ګلزار
مدام نفرت کوونکی په دُنيا له ناروا دي
راجمع طالبان بنوري ټاؤن کښې يو ځل بيا دي
اے خلقه ! دَ مفتي عبدالمجيدؒ نه شمه زار
الله دې خائسته کړي په دوی دا سره ګلزار
دَ فضل محمدؒ اُستاذ بيان دے ډير دَ کار
عظيم عالم دَ وخت دے پرهيزګاره ښۀ ديندار
ګلونه دَ اسلام دَ باغيچې تمام اعلا دي
راجمع طالبان بنوري ټاؤن کښې يو ځل بيا دي

پکاردي چې هير نه کړو غزنوی ؒ اُستاذ مدام
قاري مفتاح الله صيب رهنما دَ خاص و عام
لازم دَ اُستاذانو په هر چا دے احترام
هله انسان ته ژوندکښې ملاويږي لوئې مقام
سيرت کردار سره تول اُستاذان بالا زما دي
راجمع طالبان بنوري ټاؤن کښې يو ځل بيا دي
يوسف بنوريؒ شيخ زما سکون دَ زړګې سر
ښکاريږي په سلمان بنوريؒ کښې د دوی اثر
هر يو ښۀ پرهيزګاره ، دَ عُلُومُو سمندر
عميق لري ښۀ پلار او ځوئې تمام پوره نظر
اثار ئې دَ اخلاص ښۀ دَ علومو په هرخوا دي
راجمع طالبان بنوري ټاؤن کښې يو ځل بيا دي
مفتي نظام الدينؒ راته مدام کړي نصيحت
مولانا زيبؒ مدام کړي ردَ په شرك او په بدعت
بيان کښې مسئلې وی دَ ډاکټرؒ صيب دَ سنت
خبربه مونږ بابا کړی محمدؐ په شريعت
ګلونه خوشبوداره ، حُسنداره دي بالا دي

راجمع طالبان بنوری تاؤن کښې يو ځل بيا دی
بيا شيخ دے علامه انور ، انورؔ دَ بدخشان دے
ثانی دَ علم نۀ لری داسې عظيم الشان دے
اُستاذ له اُستاذانو نه هر يو ښۀ قدردان دے
ډير زيات مينه کونکې په هرچا ښۀ مهربان دے
لعلونه ئې خبرې ، تذکرې ئې دَ تقویٰ دی
راجمع طالبان بنوری تاؤن کښې يو ځل بيا دی
ملګرو! دا زمونږ دے دَ دستار آخيرې کال
اللّٰه راله راکړے دے دَ نور رڼا مشال
په دې به خائسته کيږی زمونږ ژوند دَ استقبال
په دې سره په ژوند کښې پيدا کيږی نور جمال
دَ دين کارونه کول کارونه تل اولياء دی
راجمع طالبان بنوری تاؤن کښې يو ځل بيا دی
زمونږ مقصد خورول دی دَ اسلام تمام احکام
زمونږ مقصد عام کول دی په دُنيا دَ ربّ پيغام
زمونږ مقصد رسوول مذهب اسلام پوره تمام
خدمت زمونږ مقصد دے دَ خواص هم دَ عوام

سمووال، برابرول هغه چې تلی په خطا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې یو ځل بیا دی
ملګرو! رانه هیر نه دے مقصد ددې ژوندون
مقصد هغه چې وی په کښې په هرقدم سکون
سکون لری هغه چې لری دین سره تړون
مینه پکار دَ ربّ سره په شان تل دَ مجنون
مینه چې حقیقی نه لری هرخوا ته رُسوا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې یو ځل بیا دی
آباد دې وی مولا زمونږ حسین دغه چمن
موندلې دے سکون دلته زمونږه روح بدن
مولیٰ زمونږ چمن دې وی تمام تل په امن
اعلا دَ هدایت ذریعه دا دَ هر یو تن
په جمع طالبان مولیٰ ته تول لاس په دُعا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې یو ځل بیا دی
جُدا له خپل چمن نه په سلګو کښې طالبان دی
فراق دَ اُستاذانو دوی جوړ کړی په خفګان دی
غمژنه اُستاذانو پسې دا تول شاګردان دی

يادونه ورسره دَ ژوند تړلی عاليشان دی
په درد کښې دَ فراق احمده ! ټول دوی مبتلا دی
راجمع طالبان بنوری ټاؤن کښې يو ځل بيا دی

...........................

# ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني

نائب صدر آل پرائمری ټيچرز ايسوسی ايشن تحصيل مردان
ساکن يونيورستي روډ خوره بانډه مردان

نوټ
دا نظم په 2001ء کښې ليکلې شوې دے
(تغير او اضافې سره)

# چادرپوشي ...... فرمائشي نظم

چادر پوشي ده په مدرسه عائشةؓ کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې
دي چنارګل بابا خوشحاله
مبارکي له ورشه خواله
نمسی عالمه شوه د دوی په دي چینه کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې
شاهد عثمان په لور خوشحاله
په خور بلال ضرور خوشحاله
سر به اُوچت لری عماد په قبیله کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې
ارمان پوره هم دَ طاهر شو
شان دَ شوکت پوره ظاهر شو
د خوشحالي نه نۀ ځائيږی په جوړه کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې
عظیم محفل دَ خوشحالو دے

دَ رب مولا دَ یادیدو دے

عجیبه خوند دے چې دَ رب اخلې نامه کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې
واړه او لوئې ورته راغلی
څه دی زمونږ څه دَ بل کلی
ناست په ادب دی ټول په جمع دې حلقه کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې
دا ستا احمدعلی اشعار دی
شعرونه ټول دې مزیدار دی
دَ نصیحت خبرې ستا دی هر جمله کښې
دَ رحمتونو باران ورسره جوړ په هرحصه کښې

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

# عظمت دَ قرآن کريم ......نظم

دلته چې اُوسيږی له قرآنه لرے لرے
هغه خامخا وی له جانانه ﷺ لرے لرے
دا نه شی کيدے چې ئې قرآن ته دلته شا وی
بيا نه شی کيدے چې ده ته لاره کښې رڼا وی
هغه خامخا وی له رحمانه لرے لرے
دلته چې اُوسيږی له قرآنه لرے لرے
نه ورسره دين وی نه رڼا دَ شريعت وی
نه ورسره نُور وی نه سبب دَ سعادت وی
هغه خامخا وی له ايمانه لرے لرے
دلته چې اُوسيږی له قرآنه لرے لرے
نه ورسره قُرب دَ اولياء په دې جهان وی
نه ورسره قُرب دَ علماء په دې جهان وی
څنګه به دې نه وی له نقصانه لرے لرے
دلته چې اُوسيږی له قرآنه لرے لرے

څوك چې په شيطان پسے مدام دلته روان وي
كار چې دَ چا دلته دَ نقصان وي دَ تاوان وي
څنګه به دې نه وي له شيطانه لرے لرے
دلته چې اُوسيږي له قرانه لرے لرے
نه دده نصيب كيږي جنتونه په محشر شته
نه ورله محشر كيږي شفاعت د پيغمبر ﷺ شته
څوك چې دَ حضور ﷺ وي حق وينا نه لرے لرے
دلته چې اُوسيږي له قرانه لرے لرے
ده ته به تورتم وي هم په قبر كيږي عذاب
ګران به په محشر ورته احمده! وي حساب
حق نه لرے لرے له رڼا نه لرے لرے
دلته چې اُوسيږي له قرانه لرے لرے


ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی
ساكن يونيورستي روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

# عظمت دَ قرآن کريم

دا چې نن دلته له قرآنه ! ګرځے لرے لرے

دا خو ښه نه ده مسلمانه ! ګرځے لرے لرے

ډيرضروري دے تعلق دغې قرآن سره تل

ډير ضروري دے تعلق دَ حق بيان سره تل

شولے غافل له حق بيانه ګرځے لرے لرے

دا چې نن دلته له قرآنه ! ګرځے لرے لرے

دا ستا دَ ژوند دَ پاره دلته د فلاح ذريعه

قرآن سره مينه ژوندون کښې دَ ربا ذريعه

کتاب اعلا نه اے نادانه ! ګرځے لرے لرے

دا چې نن دلته له قرآنه ! ګرځے لرے لرے

ستا به دَ ژوند په هر لمحه کښې پکارېږی مدام

مشکل په دې سره هرچا نه لرے کيږی مدام

ولے شوے لرے له رحمانه ، ګرځے لرے لرے

دا چې نن دلته له قرآنه ! ګرځے لرے لرے

وعظ نصیحت درته احمدعلي په جار کړے دے
ښکاره ئې حق بیان مدام دلته باربار کړے دے
پاتې شوه نیغه لاره تانه ، ګرځے لړے لړے
دا چې نن دلته له قرآنه ! ګرځے لړے لړے

ليکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# عظمت دَ قرآن کريم

دوست به دَ قرآن وي له نقصان نه لرے لرے
تل مدام وي ګټه کښې ، تاوان نه لرے لرے
ورسره دولت به خامخا وي دَ ايمان
ورسره عزت به خامخا وي په جهان
تل به وي خوشحاله ،غم خفګان نه لرے لرے
دووست به دَ قرآن وي له نقصان نه لرے لرے
راشه چې رڼا په هر قدم دې شي نصيب
راشه چې ښکلا دَ ټول عالم دې شي نصيب
بيا نه شي کيدے چې وي جانان ﷺ نه لرے لرے
دوست به دَ قرآن وي له نقصان نه لرے لرے
زړۀ به سکون لري هرځائې په هر قدم
بچ به هرطرف ته په دُنيا وي له تورتم
چمن به ئې ځائې وي ، بيابان نه لرے لرے
دوست به دَ قرآن وي له نقصان نه لرے لرے

دغه عقيده ده دَ احمدعلي په جار

زۀ ددې خبرې کوُم بنه پوره اقرار

دوست دَ حق کتاب وی له شيطان نه لرے لرے

دووست به دَ قرأن وي له نقصان نه لرے لرے

ليکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# عظمت دَ قراٰن کريم

مۀ اُوسيږه وروره! دَ قراٰن نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

ګټه په کښې ده چې دَ قراٰن سره نزدې ئې
ګټه په کښې ده چې حق بيان سره نزدې ئې

نه دے روا ژوند له حق بيان نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

دا دَ سعادت ذريعه دلته کښې يوه ده
دا دَ هدايت ذريعه دلته کښې يوه ده

نيشته هدايت دَ حق برهان نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

دغه شريعت زمونږه دين زمونږ اسلام دے
حق په کلامونو کښې قراٰن غوره کلام دے

ژوند به دَ کار نه وي له فرقان نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

دي كتاب ښودلے مونږ ته لاره دَ اللّٰه ده

دي كتاب ښودلے مونږ ته لار دَ مصطفیٰ ﷺ ده

لرے له قرآن نه ، له رحمان نه لرے لرے

مۀ اُوسيږه وروره ! دَ قرآن نه لرے لرے

دي سره بقا د دين ده دلته په جهان

دي سره حسين ښكاريږي هريو مسلمان

لرے له قرآن نه ، گلستان نه لرے لرے

مۀ اُوسيږه وروره ! دَ قرآن نه لرے لرے

************

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفيقهٖ

ربّنا تقبّل منّا انك انت السّميع العليم وتُب علينا انك

انت التوّاب الرّحيم ........وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ

خيرِ خلقهٖ محمد وآله واصحابه اجمعين.